مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۳۹۹ د سلواغې پنځمه | د ۲۰۲۱ د جنوري ۲۴مه | ٦٦٨مه گڼه

# پر عایداتي اداراتو او سرچینو نانډرۍ؛

## ولسمشر د اختلافونو له امله د مالیې وزیر له دندې گوښه کړ



۳

د فساد او چور پر وړاندې یو بل خنډ هم گوښه کړل شو

۲ مخ

د چین او افغانستان د سیاسي اړیکو مخینه

۲ مخ

د جو بایډن وینا افغانانو ته څه لري؟!

۳ مخ

## عبدالله: طالبانو لاهم په خپلو ژمنو عمل نه دی کړی

د ملي مصالحې عالي شورا رییس عبدالله عبدالله ویلي، چې طالبانو تر اوسه پورې په خپلو ژمنو عمل نه دی کړی.
نوموړي پرون په کابل کې یوې خبري ناستې ته په خبرو کې وویل، طالبانو له بهرنیو او کورنیو غوښتنو سره سره، د تاوتریخوالي کچه نه ده کمه کړې او د ده په خبره، دا چاره د سولې خبرو د روان بهیر د ورو پرمختگ لامل شوې ده. عبدالله زیاته کړې، چې د تاوتریخوالي لوړه کچه هېڅاته هم د منلو نه ده او نور باید هر څه ژر د سولې خبرو بریا لپاره د جگړې دواړه لوري اړین اقدامات وکړي.
نوموړی دا څرگندونې په داسې حال کې کوي چې طالبان بیا د سولې خبرو ورو پرمختگ پړه پر افغان دولت اچوي او وایي چې دوی د دوحې هوکړه کې پر کړو ژمنو عمل کړی او له مقابل لوري هم د ژمنتیا تمه لري.
بلخوا که څه هم په دوحه کې د سولې د دویم پړاو بین الافغاني مذاکراتو له پیل راهیسې دوې نیمې اونۍ تېرې شوې، خو لاهم دواړو لورو له یو او بل سره خپلې اجنډاوې نه دي شریکې کړې. د افغانستان دولت د مذاکراتي پلاوي غړې شریفه زرمتۍ وایي، چې طالبانو لا هم اجنډا د لومړیتوب ټکي له دوی سره نه دي شریک کړي. هغه زیاتوي، چې له دې وړاندې طالب پلاوي له دوی سره یوه اجنډا شریکه کړې وه، خو په ابتدایي ناستو کې مقابل لوري غوښتنه وکړه، چې په خپلې اجنډا له سره کتنه کوي.
بلخوا د طالبانو د قطر د دفتر ویاند ډاکټر محمد نعیم هم وایي، چې مقابل لوري تر اوسه دوی ته اجنډا نه ده سپارلې.

## ساليوان: د امریکا او طالبانو تر منځ د سولې شوې هوکړه له سره ارزول کېږي




۵ مخ

پوهنتون


۴ مخ

## خواجه عبدالله انصاري د لوړو زده کړو موسسه

د یادې موسسې ادارې د خپلو محصلینو د وړتیاوو لوړولو په موخه، په هند کې له یو خصوصي پوهنتون سره علمي هوکړه لاسلیک کړې ده، چې له مخې به یې خپل محصلین یاد پوهنتون ته لېږي.



## کرنې ریاست: روان کال په وردگو کې له دوه نیم زره جریبه ډېر بڼونه جوړ شوي




د وردگو ولایت د کرنې او مالدارۍ ریاست چارواکي وایي، چې د یاد ولایت د زرغونتیا او د بڼوالۍ د پراختیا په پار یې سږ کال دوه زره او ۵۵۲ جریبه بېلابېل بڼونه جوړ کړي دي.
د یاد ولایت د کرنې رییس ولید احمد تسل وایي، چې روان کال د کرنې وزارت د بڼوالۍ او مالدارۍ ملي پروژې او کرنې ریاست په گډې همکارۍ د دغه ولایت د مرکز په گډون په گڼو ولسوالیو کې د شفتالو، زردالو، الو، مڼې، ناک، گیلاس، انگورو، بادامو او چهارمغزو دوه زره او ۵۵۲ جریبه ساده او ۹۸.۵ جریبه متراکم بڼونه د یاد ولایت گڼو بڼوالو ته جوړ کړي دي.
د دغو جوړو شویو بڼونو تر څنگ بڼوالو ته روزنیزو پروگرامونه هم جوړ شوي، د ناروغیو او افاتو پر وړاندې مبارزه او پراخ کمپاینونه هم تر سره شوي، ترڅو د یاد ولایت بڼوالي لا پراخه او بڼوالو ته لازمې اسانتیاوې برابرې کړي.

## ستولتنبرگ: ناتو در ماه فبروری در مورد آینده حضور خود در افغانستان، بحث می کند



ینس ستولتنبرگ منشی عمومی ناتو سازمان ناتو در دیدار با مولود چاووش اغلو وزیر خارجه ترکیه، در ماه فبروری در مورد آینده حضور خود در افغانستان، بحث می کند.
او گفت، از روند صلح افغانستان حمایت می کند و به عنوان بخشی از این حمایتش، حضور ناتو در افغانستان را تنظیم خواهد کرد.
ستولتنبرگ در ادامه سخنان خود گفت، کشورهای عضو ناتو هر تصمیمی در مورد افغانستان را مشترکاً می گیرند. او افزود، آنها مسئولانه به پیش می‌روند.
آقای ستولتنبرگ همچنین در مصاحبهٔ با تلویزیون سی ان بی سی گفت که خروج نیروها از افغانستان دستآوردها در مبارزهٔ جهانی با تروریزم و توسعه اجتماعی را به خطر می‌اندازد.
وی همچنان گفت که ماندن آنها در افغانستان هم به معنای دوام دخالت در یک جنگ دشوار نظامی پنداشته می‌شود.
منشی عمومی ناتو افزود که با اداره جدید امریکا از نزدیک مشوره می کند و به گفتهٔ وی آنها در وضعیت خیلی دشوار اند.
ستولتنبرگ در ادامه سخنان خود با سی ان بی سی گفت، برای حل همه چالش‌ها به کار مشترک اروپا، امریکا و ناتو نیاز بوده و مشترکاً تصمیم خواهند گرفت: «ما همزمان با چالش‌های زیادی روبرو هستیم. هیچ یک از آنها به تنهایی قابل غلبه نیست. ما باید کنار هم باشیم. من تنها به امریکا اعتقاد ندارم، من تنها به اروپا اعتقاد ندارم. من به وحدت امریکا و اروپا در ناتو معتقدم.»

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a Book to Your Life



دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

## سرلیکنه

### د فساد او چور پر وړاندې یو بل خنډ هم ګوښه کړل شو

ولسمشر غني پرون د مالیې وزیر عبدالهادي ارغندیوال له دندې ګوښه کړ. د هغه د ګوښه کېدو خبر د ولسمشر د مطبوعاتي دفتر پر ځای د چارو ادارې خپور کړ. دا اداره وایي، د عوایدو په راټولولو کې سستي، په مالیې وزارت کې د ناقانونه ګومارنو د پلټنې لپاره د ولسمشر لخوا له ټاکل شوي پلاوي سره نه همکاري، مدیریتي کمزوري، د ښې حکومتولۍ ارزښتونو ته نه ژمنتیا، په ورسپارل شوې دنده کې د اساسي قانون د ۷۷یمې مادې په پام کې نه نیول او د ولسمشر غني له حکمونو سرغړونه هغه دلایل دي چې له کبله یې ښاغلی ارغندیوال له خپلې دندې ګوښه شوی دی.

عبدالهادي ارغندیوال لا په دې اړه چوپ دی. که څه هم نوموړي تازه له ولسي جرګې د باور رایه اخیستې وه، خو په وروستیو کې د ارګ او ارغندیوال ترمنځ ستونزې زیاتې وې. دا ستونزې لومړی د ارغندیوال او د چارو ادارې د رییس ترمنځ وې، چې وروسته بیا پکې اشرف غني هم ورښکېل شو. په اوسني حکومت کې نږدې ټول وزیران د دې پر ځای چې ولسمشر ته ځواب ویونکي وي، د چارو ادارې مشر ته ځواب وایي. سره له دې چې د قانون له مخې، وزیران د چارو د ادارې تر رییس په لوړ مقام کې دي، خو بیا هم سیستم داسې شوی چې هر وزیر باید د چارو ادارې رییس ته رپوټ ورکړي، له هغه هدایت واخلي او د هغه له خوښې سره سم عمل وکړي. که هر څوک داسې ونه کړي، نو له ستونزو سره مخ کېږي. عبدالهادي ارغندیوال هم د چارو ادارې رییس ته تسلیم نه شو او مقاومت یې وکړ. له همدې امله یې په مالیې وزارت کې کارونه له خنډ او ځنډ سره مخ شول او ستونزې ورځ تر بلې زیاتې شوې. وروسته په دې ستونزو کې ولسمشر غني هم ور شریک شو او د چارو ادارې د رییس په ننګه یې پر ارغندیوال فشارونه زیات کړل چې خبره تر ګواښونو هم ورسېدله. دا خبره تر دې ځایه راغله چې ارغندیوال هم له دندې ګوښه شو او هم پرې ډېر درانه تورونه ولګول شول.

اوسنی حکومت د یو شخصي شرکت بڼه لري چې ځیني شریکان هم لري، خو اصلي مالکین یې پکې برلاسي دي، چې هر څوک یې د ګټو پر ضد ودرېږي، دوی یې پر ضد ګام اخلي او دا ورته مهمه نه ده چې قانون په دې اړه څه وایي او څه پایلې لري. اوسنی حکومت د اشرف غني او له غرب څخه د څو راغلو کسانو د یوه شخصي شرکت بڼه لري چې پکې د هر ډول تصرف حق لري او هېڅوک یې د مخنیوي نه حق لري او نه هم صلاحیت. دوی د نورو چارو تر څنګ په پراخ مالي فساد کې هم ښکېل دي او له دې امله په هغو ادارو کې چې عایداتي دي او یا هم مالي منابع لري، باید پوره د دوی واکمني وي. پر دغو ادارو د دوی واکمنی له دوی سره مرسته کړې چې لا زیات فساد وکړي، د دې وطن شتمنۍ لوټ کړي او خپلو اصلي هېوادونو ته یې ولېږدوي.

ولس باید نور د دغو خپلسریو، ناقانونۍ، فساد او ظلم پر ضد ودرېږي. که دا خلک لا نور واکمن وي او همداسې کړنې یې دوام وکړي، نو نه یوازې لا زیاتې ملي سرچینې به لوټ شي، بلکې نظام او سیستم به داسې تخریب شي چې بیا به یې جوړول خورا ستونزمن وي.

# د چین او افغانستان د سیاسي اړیکو مخینه

لیکنه: اعظم منور

د افغانستان په شمال- ختیځ کې د چین په نوم د یوې لویې جغرافیې په حدودو کې را ټول هېواد موقعیت لري، چې نفوس یې د نړۍ کابو یو پر پنځمه برخه جوړوي. دا هیواد د اقتصاد په برخه کې د نړۍ دویم مقام لري، ابر قدرت دی او د ملګرو ملتونو امنیت شورا دایمي غړی دی، چې دا ټولې ځانګړتیاوې په نړیواله کچه د دې هیواد اهمیت ثابتوي.

د تاریخي سرچینو په حواله، دغه هېواد له افغانستان سره له زرګونو کلونو راپدېخوا بې غرضه اړیکې لري او د دې کرښو تر لیکلو یې د افغانستان پر خاوره تېری نه دی کړی.

د هېوادونو، دولتي سازمانونو، خپلواکو غیر دولتي سازمانونو او... تر منځ اړیکو ته نړیوالې اړیکې وایي. په حقیقت کې دا د ټولو هېوادونو اړتیا ده چې له نورو هېوادونو سره سیاسي، سوداګریزې، کلتوري، علمي، او... اړیکې ولري.

د ملي اهدافو په پام کې نیول، په نړیوالو اړیکو کې مهم ځای لري او طبیعي ده چې هر هېواد ځانته د ملي اهدافو تعریف لري او له نورو هېوادونو سره د خپلو ملي اهدافو په رڼا کې اړیکې پالي. که په نړیوالو اړیکو کې ملي اهداف له پامه وغورځول شي، نو د یوه هېواد د تباهۍ لامل هم کېدای شي. که د افغانستان تېر تاریخ ته وګورو، نو له بده مرغه ډېر وخت په بېلابېلو دلایلو له نورو هېوادونو، په ځانګړې توګه سترو هېوادونو سره په اړیکو کې ملي اهداف له پامه غورځول شوي او اړیکې د متقابل درناوي نه، بلکې یوازې د مقابل لوري ګټو ته پکې پام شوی چې په نتیجه کې یې افغانستان نه جبرانېدونکي زیانونه لیدلي، چې په دې برخه کې له پخواني شوروي اتحاد او بریتانوي هند سره د افغانستان د وخت اړیکو ته اشاره کولای شو.

دا چې افغانستان یو اسلامي هېواد دی، نو څکه زموږ ملي او اسلامي ارزښتونه او اهداف یو له بل څخه نشي بېلېدای او له نورو سره په اړیکو کې زموږ سرې کرښې دي او باید هېڅکله له پامه ونه غورځول شي.

د چین او افغانستان اړیکې په دوو برخو ویشلای شوو: لومړی؛ په تېر وخت کې د دواړو هېوادونو تر منځ هغه اړیکې دي، چې څه باندې دوه زره کاله زوړ تاریخ لري او بل په معاصره وخت کې د دواړو هېوادونو تر منځ هغه اړیکې دي، چې "د جنوري په ۲۰مه" یې ۶۶مه کلیزه پوره شوه.

ځینې هغه تاریخي لیکنې چې د یونلیکونو په بڼه موږ ته راپاتې دي، د دې ښودنه کوي چې د چین او افغانستان خلکو له ډېر پخوا څخه ښې اړیکې لرلې.

د چین د هان امپراتورۍ، زینګ جیان له میلاد څخه ۱۲۸ کاله وړاندې د کنشکا امپراتورۍ پر مهال په افغانستان کې د خپل لومړني استازي په توګه وټاکه، چې د دې سرچینې له مخې، د افغانستان او چین د اړیکو مخینه شاوخوا دوو زرو کلونو ته رسېږي. خو د چین او افغانستان د دولتونو تر منځ اوسمهاله (معاصرې) ډیپلوماټیکې اړیکې په ۱۹۵۵ کال کې پیل شوې چې په ترڅ کې یې د چین د وخت لومړي وزیر چوان لای افغانستان ته سفر وکړ.

د چین لومړي وزیر په دې سفر کې د افغانستان د وخت له پاچا محمد ظاهرشاه او لومړي وزیر سردار محمد داوود خان سره سرحدي مسایلو او اقتصادي اړیکو د جوړېدو بحث مطرح کړ او ورپسې سردار محمد داوود خان چین ته سفر وکړ او د دغه هېواد له رهبر، مایو تسه تونګ سره یې د سرحدي مسایلو د حل په اړه د افغانستان اراده شریکه کړه او بالاخره په ۱۹۶۳ کال کې له پکن څخه کابل ته یو لوړ پوړی پلاوی راغی او د چین له سین کیانګ ایالت سره یې د افغانستان بدخشان ولایت د واخان تر منځ د ګدې پولې ټاکلو په موخه یو تاریخي تړون لاسلیک کړ، چې په پایله کې یې د دواړو هېوادونو تر منځ د سیاسي او اقتصادي اړیکو د پراخېدو لپاره یو ځل بیا زمینه برابره شوه.

خو کله چې د پخواني شوروي اتحاد لخوا د ۱۹۷۹ کال د ډسمبر په ۲۵مه افغانستان اشغال شو، چین یې پر وړاندې خپله غوسه په ډاګه کړه او د یوې اعلامیې په خپرولو سره یې پر افغانستان دغه یرغل په سختو ټکیو وغانده.

دغه راز چین په ۱۹۹۳ کال په افغانستان کې د ډاکټر نجیب الله حکومت تر ړنګېدو وروسته او د کورنیو جګړو پر مهال په کابل کې خپل سفارت بند کړ، خو په ۲۰۰۱ کال کې یې د حامد کرزي په مشرۍ افغان دولت په رسمیت وپېژانده او د دواړو هېوادونو تر منځ د اقتصادي همکاریو تړون لاسلیک شو او دې هېواد له ۲۰۰۱ کال راپدېخوا له افغانستان سره سلګونه میلیونه ډالره مرسته کړې.

چین د افغانانو د مصرفي توکو لپاره مناسب بازار پرانیستی، داسې چې د افغانستان په هر کور کې له پوښاک (بوټ، څپلۍ، موزې، جرابې، جامې ...) نیولې تر ټوکر، فرش، ماشین الاتو، ودانیزو توکو، کمپیوټر، ټلیفون او داسې نور د چیني تولیداتو بېلګې لیدل کېږي او په زړه پورې دا ده چې د چیني محصولاتو بیه د نورو هېوادونو د محصولاتو په پرتله ښه او ټیټه ده.

چین اوسمهال له افغانستان سره د اقتصادي همکاریو تړون لري.

چین ډېر لرغونی ټاټوبی دی چې د تاریخ پوهانو په باور، د دغه هېواد لومړني تمدنونه د یانګ تسه او زېړ سمندر په څنډو کې رامنځ ته شول. موندنې ښیي چې انسانان له میلاده ۵۰۰۰ کاله پخوا د یانګ تسه په سیمه کې میشت او کرنې ته یې مخه کړه.

د چین لسګونه لرغوني ځایونه د ملګرو ملتونو د یونیسکو په سازمان کې د نړۍ د مشهورو تاریخي ځایونو په نوملړ کې ثبت دي.

شانګهای، پکن، هانګزو او شنزن د چین مشهور ښارونه دي.

**شانګهای**

شانګهای تر ټولو ګڼ نفوس ښار دی، غرونه یې پر شنو ځنګلونو پوښل شوي او د دغه ښار طبیعي منظرې ته یې لا ډېره ښکلا ور بښلې ده. په نوموړي ښار کې ډېر پوهنتونونه او د لوړو زده کړو موسسې فعالیت لري، څکه د علم او روښنګرۍ مرکز هم بلل کېږي.

دغه ښار د سیند په وسیله پر دوو برخو ویشل شوی.

**هانګزي ښار**

هانګزي ښار د ژجیانګ ایالت مرکز دی او د سیاست، اقتصاد او کلتور مرکز هم ګڼل کېږي، ډېر ښکلی ښار دی او له اقتصادي پلوه په چین کې مهم مقام لري. دې ښار ته هر کال میلیونونه بهرني او کورني سیلانیان ورځي.

د اېټالیایي مار کوپولو دغه ښار د یوان لړۍ په وخت کې د نړۍ تر ټولو باعظمته او زړه را ښکونکی ښار بلل دی.

**شنزن ښار**

د شنزن ښار د موبایل، کمپیوټر او نورو برېښنایي وسایلو بندر ګڼل کېږي. دغه ښار د تولیدي کار ځایونو او مهمو سوداګریزو مرکزونو درلودلو له امله ځانګړې ارزښت لري. په دې ښار کې د نړۍ اتمه لوړه ودانۍ هم جوړه شوې ده. شنزن اوسمهال د اسیا په ختیځ کې یو مهم سوداګریز مرکز ګڼل کېږي.

**سیاست**

**د چین بهرنۍ اړیکې:**

چین د ملګرو ملتونو د امنیت شورا یو مهم او دایمي غړی هېواد او د نړۍ له ۱۸۰ ډېرو هېوادونو سره ډیپلوماټیکې اړیکې لري. په ډېرو هېوادونو کې سفارتونه لري چې یو له دې هېوادونو څخه افغانستان هم دی.

دغه راز د نړیوالې سوداګرۍ سازمان، اپک، شانګهار د ملګرتیا سازمان او ۲۰ ډلې په شان د څو اړخیزه سازمانونو غړی هیواد هم دی.

**اقتصاد**

**یو کمربند یوه لار (د وریښمولار)**

چین اوسمهال د نړۍ تر ټولو ستر صادروونکی او د ناخالص کورني تولید پر بنسټ، په نړۍ کې دویم ستر اقتصاد لرونکی هېواد ګڼل کېږي .

چین له پخوانیو پېړیو راپدېخوا د علمي تمدن پر مرکز سربېره، د نړۍ یو ستر سوداګریز مرکز پاتې شوی او له چین څخه د نړۍ کابو ټولو برخو ته سوداګریز او د تولید اومه توکي لېږدول کېدل، چې د لېږد یوه مهمه لار یې د وریښمو لار پاتې شوې، خو د ټکنالوژۍ په ډګر کې د پرمختګ او په وړو وړو برخو د ډېرې اسیایي هېوادونو د وېشل کېدو او ځینو ښکیلاکي سیاستونو له امله دغه لاره سلګونه کاله له پامه غورځول شوې، خو اوس چین په ۲۰۱۳ کال کې یو ځل بیا د دې لرغونې او نړیوالې سوداګریزې لارې د جوړېدو پلان اعلان کړ.

یو کمربند یوه لار د نړۍ ۶۹ کابو هېوادونه په بر کې نیسي او په دې سره د نړۍ کابو نیمایي نفوس چیني محصولاتو ته لاسرسی پیدا کوي.

د وریښمو لارې یو مسیر له چین څخه پیل او د مرکزي اسیا له لارې اروپا ته رسېږي او بل یې د ۲۱مې پېړۍ سمندري لاره ده چې چین د سمندر له لارې له سویل- ختیځې او لوېدیځې اسیا، منځني ختیځ او افریقا سره نښلوي.

د وریښمو لارې یوه برخه د افغانستان له بدخشان څخه تېره شوې چې په بیارغېدو سره یې افغانستان له اقتصادي پلوه لا ډېر ستراتیژیک ارزښت پیدا کولای شي.

دغه هېواد د اټومي وسلې په درلودلو سره د نړۍ تر ټولو ستر پوځ او په نړیواله کچه د سترې دفاعي بودیجې درلودونکی هېواد دی.

چین ته د ځینو پوهنتونونو، پوځي، اقتصادي او سیاسي څېړونکو لخوا د یوه ابر قدرت لقب ورکړل شوی دی.

**د وریښمو لارې مخینه**

هغوی چې د سیمې له تاریخ سره بلد دي، پوهېږي چې د وریښمو لار چې افغانستان یې هم یوه برخه ده، کابو دوه زره کاله وړاندې د منځنۍ او سوېلي اسیا، افریقا او اروپا تر منځ یوه مهمه اقتصادي او کلتوري لار وه. د هغو هېوادونو په پراختیا او پرمختګ کې د یادې شوې لارې مهم رول، چې دغه لار ورڅخه تېره شوې ده، ډېر څرګند دی.

د وریښمو لارې د لرغونتوب په اړه ځینو تاریخي سرچینو ویلي چې د دې لارې لرغونتوب له میلاد څخه کابو ۳۵۰۰ کاله پخوا وختونو ته رسېږي، خو دغه لار په چین کې له میلاد څخه کابو ۱۵۰۰ کاله پخوا د وریښمو لارې په نوم مشهوره شوه. دا چې چین ډېر وریښم تولیدول او له دې لارې یې صادرول، ښایي له همدې امله د وریښمو لار نومول شوې وي.

د افغانستان واخان د وریښمو لارې یوه مهمه دروازه ده او پخوا ترې بهرنیو هېوادونو ته د افغانستان صادرات او واردات له همدې لارې سرته رسېدل.

د یاد شوي دهلیز بېرته پرانیستل به د افغانستان په وارداتي لګښتونو کې د پام وړ کموالی رامنځ ته کړي او ان د دې دهلیز بېرته پرانیستل کېدو سره د افغانستان د مس عینک کان اومه مواد د همدې دهلیز له لارې چین ته استول کېدای شي، څکه د دې لارې پرانیستل چین او افغانستان دواړو ته ډېره ګټه لري .

د سیمې جغرافیایي جوړښت د دې ښودنه کوي چې چین او د سیمې هېوادونه د ځمکې او اوبو له لارې سره تړلي دي او دا کار د سوداګریزو توکو وړل راوړل لا اسانه کوي.

**د شانګهای همکارۍ سازمان او د چین نوښت**

د شانګهای همکارۍ سازمان د چین په نوښت په ۲۰۰۱ کال کې د دغه هېواد، روسیې، قزاقستان، قرغیزستان، تاجکستان او ازبکستان د مشرانو لخوا د امنیتي، اقتصادي او کلتوري همکاریو لپاره رامنځ ته شو.

په ۲۰۰۴ کال کې مغولیستان او یو کال وروسته یې ایران، پاکستان او هند او په ۲۰۱۲ کال کې افغانستان او ورپسې بلاروس د دغه سازمان څارونکي غړي شول .

**د چین ورزش**

د نړۍ ډېریو بېلابېلو ورزشونو هم له چین څخه سرچینه اخیستې ده. کونګ فو د چین تر ټولو مشهور ورزش دی چې په ۱۶۰۰ کال کې رامنځ ته شوی.

د ورزش ډېر مشهور شخصیتونه لکه جکي چان او بروس لري دواړه د چین د هانګ کانګ دي چې په نړۍ کې د کونګ فو پر اصولو مشهور دي .

کونګ فو او ووشو، تالو، وینګ چون کونګ فو یا وینګ چون ووشو د چین پخواني او دودیز رزمي هنرونه دي.

**د چین صنایع**

د چین اصلي صنایع ډېر پراخ دي او محصولات یې اوسپنه، سټیل، د ډېرو سکاره، ماشین الات، تیل او پتروشیمي، د لوبو سامانونه، جامې او برېښنایي توکي دي.

د مالدارۍ او زراعت په برخه کې وریجې، غنم، کچالو، جوار، ممپلي، چای، ړدن، وربشې، کتان او کب د چین د خلکو مهم محصولات دي. د چین عمده صادرات ماشین الات، جامې، بوټ، د لوبو شیان، کیمیاوي توکي او کاني سون توکي دي. واردات یې ماشین الات، کیمیاوي توکي، اوسپنه، سټیل او کاني سون توکي دي.

# د جو بایډن وینا افغانانو ته څه لري؟!

لیکنه: ذاکر جلالي

امریکا په نړۍ کې ستر دولت دی. د سړې جګړې له پای وروسته یوازینی زبرځواک ګڼل کېږي. د امریکا له نویو ټاکل شویو ولسمشرانو د امریکایي ولس تر څنګ د نړۍ د ځینو نورو ولسونو هم هیلې وي؛ ځکه د امریکا سیاستونه د امریکا له پولو بهر پر نړۍ هم کافي اغېز لري.

افغانستان کې چې د ۲۰۰۱ کال له اکتوبر راهیسې امریکایي ځواکونه حضور لري، د دې وطن له جګړې تر سولې، تر سیاست او اقتصاد زموږ ډېر څه له امریکا په یو ډول نه یو ډول متاثر دي. په تېره د سولې او جګړې بحث. له ټولو سره دا پوښتنه وي چې بایډن به څه وکړي؟ تګلاره به یې څه وي؟ د سولې په هیله د شوي مزل ملاتړ به وکړي او که به هر څه راوګرځوي؟

ارګ پر افغانستان د واکمنۍ دعوه لري؛ خو سترګې او هیلې یې تر نورو زیات په سپینې ماڼۍ پورې تړلې او بې‌صبرانه انتظار باسي که بایډن د سولې لپاره شوی کار لغوه کړي؛ دا به په ارګ کې د دوی شپې او ورځې یو څه زیاتې کړي.

خو بایډن خپله کیسه لري. خپل لومړیتوبونه لري. بایډن د یوه لوبېدلي، روزل شوي او پاخه سیاستوال په توګه تر بل هر چا ښه پوهېږي چې خپل وطن یې څه ته اړتیا لري، له کومو ګواښونو سره مخ دی او څه باید ورته وکړي.

بایډن تر بل هر چا ښه پوهېږي چې ولس یې وېشلی دی. توکمپالنې یو ځل بیا سر راپورته کړی. ټولنیز تضادونه د امریکا ډیموکراسي ګواښي. د بایډن تر لوړې یوازې څو ورځې وړاندې د پخواني ولسمشر ټرمپ ملاتړي بلواګر د کانګریس ودانۍ ته په زور ننوتل. وحشت یې خپور کړ. د امریکا د حکومت د یوې معتبرې اداري سپکاوی وشو. د نړۍ د سترې ډیموکراسۍ یو مهم بنسټ سپک شو.

تاسې چې د بایډن لومړنۍ وینا وګورئ، واقعاً د یوه رهبر وینا وه. د پورته ټولو دردونو، ناخوالو او ستونزو په درک سره یې ولس یووالي ته راوباله. بایډن په یوویشت دقیقې وینا کې یوولس ځلې د «یووالي» لفظ وکاراوه. بایډن له خپلو خلکو د نوي پیل غوښتنه وکړه:

راځئ یو بل ته غوږ ونیسو؛
یو بل واورو؛
یو بل ووینو؛
یو بل ته درناوی ولرو؛
سیاست باید داسې اور نه شي چې هر څه وسوځوي؛
هر د نظر اختلاف باید د بشپړې جګړې لامل نه شي.

وروسته بایډن زیاتوي:
زما ګرانو امریکایانو، موږ ښایي له دې متفاوت واوسو؛
امریکا باید تر دې بهتره اوسي؛
او زه باور لرم چې امریکا تر دې بهتره ده.

بایډن وایي:
زما خبره واضحه واورئ:
د نظر اختلاف باید د نفاق لامل نه شي او زه له تاسې سره ژمنه کوم چې زه به د ټولو امریکایانو ولسمشر واوسم. هغوی چې زما ملاتړ یې نه دی کړی، داسې هڅې به ورته کوم؛ څنګه یې چې د خپلو پلویانو لپاره کوم.

زما ګرانو امریکایانو! موږ په راتلونکي کار کې یو بل ته اړتیا لرو.

دا د بایډن ځینې الفاظ وو چې د خپلو خلکو یووالي یې پکې غوښت. که د بایډن وینا وګورو، زیاته برخه یې ځکه د امریکا یووالي ته ځانګړې کړې وه، چې ټرمپ څلور کاله نفاق ته کار وکړ، د امریکا ټولنه یې ووېشله او د واکمنۍ په وروستیو ورځو کې یې پلویانو د کانګریس د ودانۍ سپکاوی هم وکړ. دا هر څه بایډن ډېر جدي ونیول او د حللارې هڅې یې له لومړنۍ وینا پیل کړې.

**افغانانو ته د بایډن وینا!**

ځینې افغانان لا هم فکر کوي چې زموږ وطن امریکا ته ډېر مهم دی. د دوی هیله وه چې بایډن به حتماً په پرانیستې وینا کې د افغانستان په باب هم څه ووایي. نه پرانیستې وینا کې او نه هم تر دې مخکې کمپاین کې بایډن د افغانستان د جګړې په اړه ډېر څه نه دي ویلي.

خو که د بایډن پرانیستې وینا وګورو، دا ټوله وینا افغانانو ته وه. یووالی، یووالی، یووالی!

که د «امریکایانو» پر ځای «افغانان» مخاطب شوي وای، موږ ته هم ډېر څه لري.

د ټرمپ یوازې څلور کلنې واکمنۍ امریکایي رهبران اندېښمن کړي چې ولس یې وېشل شوی؛ خو موږ له څلورو لسیزو زیاته موده کېږي چې د بهرنیو یرغلونو او کورني نفاق په اور کې سوځو. له قومي کرښو نیولې، تر سیاسي، ایډیولوژیکي او مذهبي کرښو سره وېشلي یو. زموږ تضادونه هم ډېر جدي دي او ډېر کار ته اړتیا لري. ایا موږ ډېر متحد ملت یو؟ ایا زموږ یووالی له ګواښ سره مخ نه دی؟ د دې نفاق پر وفاق بدلون د چا دنده ده؟ دا مسوولیت څوک احساسوي؟ په دې اړه څوک فکر کوي؟

**که موږ هم بایډن ته په تمه شو؟!**

موږ ولې خپله د خپل وطن بایډن نه شو. موږ ولې د خپل ملي چاود د کوشیر کولو هڅه په خپله نه کوو؟!

له څه باندې څلورو لسیزو جګړو او بحرانونو وروسته، بالاخره موږ یو فرصت لرو. د بین الافغاني خبرو، د ملي تفاهم، د واقعیتونو د درک، د نوي پیل، د ترخې ماضي د هېرولو؛ ښايي ځینې واقعیتونه ډېر ترخه وي؛ خو رهبران او مشران د خپل ولس او خلکو لپاره د زهرو جام پر سر اړوي او داسې پرېکړې کوي چې د یوه ملت مسیر بدل کړي.

ولس د بین الافغاني خبرو پایلو ته هیلې لري. د ولس سترګې دغو خبرو ته دي. هغه زړه، مور او پلار چې د خپلو زړونو ټوټې یې په دې جګړه کې قرباني کړې، هغه مور چې هر سهار یې زوی له کوره وځي تر ماښامه اندېښمنه وي؛ دا خلک د دې ترخه ژوند پای ته شېبې شماري.

ایا د دې ترخو شېبو درک او درد په تصمیم‌نیوونکو کې شته؟ ایا موږ د مسوولیت احساس کوو؟ ایا موږ د یووالي او افغانستان د ژغورنې او بقا لپاره سیاسي قربانیو ته چمتو یو؟

که لا هم درک نه لرو، لا هم تېرې تجربې بیا بیا تکراروو او ځانونه د تاریخ د تکرار د فورمول په قربانیانو بدلوو؛ خو د یوه ملت له سرنوشت سره بابیزه چلن کوو، بیا نو موږ د همدغو بدو پایلو وړ یو.

ځکه کوم ملت چې په خپله خپل سرنوشت نه بدلوي، خدای هم د هغه سرنوشت نه بدلوي.

زموږ د سرنوشت د بدلون په هیله!

# پر عایداتي اداراتو او سرچینو نانډرۍ؛

## ولسمشر د اختلافونو له امله د مالیې وزیر له دندې ګوښه کړ



ولسمشر د یوه فرمان له لارې د مالیې وزیر عبدالهادي ارغندیوال له دندې ګوښه کړی او پر ځای یې نوی سرپرست وزیر ټاکلی دی. عبدالهادي ارغندیوال په تېرو ټاکنو کې د ولسمشر غني متحد و او د حزب اسلامي د ګوند استازیتوب یې د ده په ټاکنیز ټیم کې کاوه. دی د روان کال په حمل یا وري میاشت کې د مالیې سرپرست وزیر وګومارل شو او په لینډۍ میاشت کې یې له ولسي جرګې د باور رایه واخیسته، خو له کار یې لا میاشت نه اوړي چې ولسمشر غني له دندې ګوښه کړی دی. دې مسئلې په ټولنیزو رسنیو کې غبرګونونه پارولي دي.

د ګوتو په شمار ورځې کېږي چې ولسمشر غني د عامې روغتیا وزارت وزیر له دندې ګوښه کړ او اوس یې په تازه اقدام کې د یوه فرمان په صادرولو د مالیې وزیر عبدالهادي ارغندیوال هم له دندې ګوښه کړی دی. په ارګ کې یو شمېر سرچینو رسنیو ته ویلي چې په وروستیو کې د ځینو مسایلو له امله ولسمشر غني پرېکړه کړې چې د دغه وزارت وزیر عبدالهادي ارغندیوال له دندې ګوښه کړي. د ولسمشر غني د دفتر له لورې په یوه خپره شوې اعلامیه کې هم د هغه د لرې کېدو راپورونه تایید شوي دي.

ولسمشرۍ ماڼۍ ویلي چې عبدالهادي ارغندیوال په دې وروستیو کې په مالیې وزارت کې خپلسرې ګومارنې کولې او همدا راز یې د مالیاتو د راټولونې په برخه کې یې مدیریت خورا کمزوری و. د ولسمشر غني د دفتر له لوري په خپره شوې اعلامیه کې راغلي چې نوموړی د ښې حکومتولۍ ارزښتونو ته هم ژمن نه و. د سرچینې په خبره: ((د جمهوري ریاست عالي مقام په حکم کې د مالیې وزیر د ګوښه کېدو دلایل د عوایدو په ټولولو کې کموالی، په مالیې وزارت کې د غیرې قانوني مقرریو د څېړنو ګډ پلاوي سره نه همکاري او د دغو څېړنو مخه نیول، کمزوری مدیریت، د ښې حکومتولۍ ارزښتونو ته ژمنتیا نه لرل او په ورسپارل شوو وظایفو کې د هېواد اساسي قانونو ۷۷یمې مادې نه مراعت کول یې له دندې د لرې کېدو لاملونه دي)).

د ارګ له مطبوعاتي دفتره د ارغندیوال د لرې کولو یو بل مهم لامل هم دا په ګوته شوی چې هغه په خپلو چارو کې د ولسمشر له حکمونو او لارښوونو سرغړونه کړې ده. د سرچینې په خبره: ((او د جمهوري ریاست د عالي مقام له حکمونو او هدایاتو څخه سرغړونه یاد شوي دي)).

تر دې دمه عبدالهادي ارغندیوال د ولسمشر پر دغه پرېکړه غبرګون نه دی ښودلی، خو هغه ته نږدې سرچینې وایي چې د مالیې وزارت د وېش پر سر د ولسمشر غني او ارغندیوال ترمنځ نانډرۍ رامنځ ته شوې وې. د سرچینې په خبره، څه موده وړاندې چې ولسمشر غني په څو ادارو د مالیې وزارت د وېشلو پرېکړه وکړه، نو د نړیوالو په ګډون د ارغندیوال له غبرګون سره هم مخ شوه او په دې برخه کې یې له همکارۍ ډډه وکړه.

بلخوا د سیاسي او حقوقي چارو شنونکي بیا د ولسمشر پر دغه پرېکړه نیوکه کوي. دوی وایي، دا چې تر ټاکنو وروسته ولسمشر غني واک ته رسېدلی، نو اوس په دې لټه کې دی چې د ملي تدارکاتو په څېر د هېواد ټولې عایداتي سرچینې او شاه رګونه پر ارګ ور مات او ولسمشر پخپله ټولې عایداتي سرچینې په واک کې ولري. د سیاسي او حقوقي مسایلو شنونکی صدیق منصور انصاري وایي: ((ولسمشر غواړي د تدارکاتو او نورو اداراتو په څېر چې عایدات ولري، ټول مالیاتي او عایداتي شاه رګونه ارګ سره وصلوي او غواړي پر هر څه حاکم وي او څه ډول لوبې یې چې زړه وغواړي هسې لوبې وکړي)).

د ولسي جرګې غړو هم پر دې پرېکړه غبرګون ښودلی دی. د ولسي جرګې د مالي او بودیجې کمېسیون غړی عبدالکبیر کبرزاني وایي چې د ولسمشر په کابینه کې ارغندیوال تر ټولو پاک سړی و او ولسمشرۍ ماڼۍ یې چې د ګوښه کېدو لپاره کوم دلایل راوړي، هغه معقول نه دي. د ده په وینا، د ولسمشر په شاوخوا کې یوه ځانګړې کړۍ رامنځته شوې چې دوی شخصي غوښتنې لري او د کابینې کوم غړی یې چې غوښتنې نه مني، نو دوی یې پر وړاندې ولسمشر پاروي او ولسمشر یې هم له دندې ګوښه کوي.

# پر کانګرېس تر برید وروسته؛

## د امریکا سنا جرګه د دغې پېښې له کبله د ټرمپ محاکمه پیلوي

د امریکا سنا جرګه د کانګرېس په ودانۍ د جنورۍ د شپږمې یرغل په خاطر پر ټرمپ د لګېدلو تورونو له کبله د هغه محاکمه پیلوي. د امریکا د استازیو جرګې مشرې نانسي پلوسي سبا (دوشنبه) د امریکا د مخکیني ولسمشر ډونالډ ټرمپ د استیضاح مسوده سنا جرګې ته لېږي او ټاکل شوې چې ډېر ژر به د دغو تورونو په اړه محاکمه پیل شي.

د جرګې د اکثریت مشر سناتور چک شومر ویلي: «حقیقت دا دی چې استازیو جرګه به د استیضاح مسوده راولېږي. سنا به د ټرمپ د استیضاح محاکمه ترسره کړي. یوه بشپړه او منصفانه محاکمه به وي. سناتوران به پرېکړه کوي که هغوی پر دې باور وي، چې ډونالډ ټرمپ د متحده ایالتونو پر وړاندې بلوا پارولې ده.» شومر زیاته کړې، د سنا ځینې ډیموکراټ غړي استدلال راوړي چې د ټرمپ محاکمه ځکه ناقانونه ده چې هغه نور په دنده کې نه دی. شومر د دغو سناتورانو په ځواب کې ویلي، دا با مانا خبره ده چې که ولسمشر وي یا بل هر چارواکی د هېواد پر وړاندې کوم ناوړه جرم وکړي او بیا اجازه ورکړل شي چې استعفا ورکړي، څو له حساب کتاب یا تعقیبه معاف شي. دا په داسې حال کې ده چې پخوانی ولسمشر ډونالډ ټرمپ چې د جنورۍ په ۲۰مه د خپل ځایناستي ولسمشر جو بایډن د لوړې په مراسمو کې یې ګډون هم نه و کړی، په فلوریډا کې خپل هستوګنځي ته ولاړ، د جنورۍ په ۱۳مه د استازیو جرګې له خوا استیضاح شو. په نوموړي تور لګېدلی چې د جنورۍ په شپږمه یې بلوا پارولې ده.

د یادونې ده چې د جنورۍ په شپږمه د ټرمپ د قهرجنو لاریونونو پر مهال خلکو د کانګرېس پر ودانۍ یرغل وکړ، چې له پولیسو سره په نښتو کې یو پولیس او څلور نور کسان ووژل شول. خلک د ډونالډ ټرمپ په پلوۍ په کانګرېس کې د هغې غونډې پرضد را وتلي وو چې پکې د الکتورانو له خوا د جو بایډن تاییدي روانه وه.

ټرمپ د امریکا په تاریخ کې هغه ولسمشر و چې دوه ځله یې د استازو جرګې له خوا استیضاح تایید شوې ده. ده تېر ځل چې سنا جرګه د جمهوریپالو په لاس کې وه، برائت وموند. هغه ځل ټرمپ پر دې تورن و چې په اوکراین یې فشار راوړی چې د جو بایډن او د هغه د زوی هنټر بایډن په اړه پلټنې وکړي.


دا ځل د کانګرېس دواړه خونې د ډیموکراټانو په لاس کې دي. استازیو جرګې لا دمخه د ټرمپ استیضاح تایید کړې او تمه ده له دې وروسته یې د محاکمې رسمي چارې سنا جرګه مخته یوسي.

## د کتـاب خبـري

# د جاسوسي پېښلړ RAW, ISI او د سولې وهم

◎ ليکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او ادیتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### څلورمه برخه
### کابوکي




نواز شريف د اکتوبر پر دوولسمه مشرف له دندې لرې کړ، ده ته يې د کودتا لپاره دليل پيدا کړ. خبره يوازې د پرېکړې نه وه، بلکې د پرېکړې د ډول هم وه. هو! لوی درستيز په هوا کې و، ده يې استعفا اعلان کړه او د ده الوتکې ته يې وويل چې امرتسر او که بل چېرته ځي لاړ دې شي. دا د کار ډېره (ناوړه) طريقه وه، خو له ميا صېب د دغسې کارونو تمه کېدای شوه. خپله ده ته يې هم درنه بيه درلوده.
دولت: ما ته بيا جالبه دا ده چې هغه جنرالان چې د کودتا په جريان کې ده ته نژدې وو، له ده سره يې مرسته وکړه او مشرف ته وفادار وو، خو مشرف چې له واکه لرې شو، خوږه يارانه يې ورسره وشلېده.
دولت: محمود يې د امريکايانو په خاطر لرې کړ.
دوراني: هو، د امريکايانو.
دولت: عزيز ته يې ډېره ګټه ورسېده، خو ده د مشرف په توصيف کې يوه کلمه هم و نه ويله، ولې؟
دوراني: همدا د دنيا رواج دی. ضياءالحق هم د فضل حق غوندې خلکو (چې ويل به يې: «اکٹھے اےی تھے، اکٹھے جاینگے» (يو ځای راغلي يو، يو ځای به ځو) له شره ځان خلاص کړ، يا د چيشتي غوندې چې هغه به خپل «پير» باله. ضيا په دې برخه کې ډېر هوښيار و. له کېنګ مېکرانو سره د تداوم مانا دا ده چې دوی به دې په يوه مناسب وخت کې له دندې لرې کړي. نوي خلک راشي، دوی ترې خپل اهداف ترلاسه کړي، بيا يې ايسته وغورځوي.
دولت: دا نو د هغه چا په باره کې ډېره خواشينوونکې ده چې ته ورته خدمت کوې، بېخي وفاداري نشته.
دوراني: د ګوتو په شمار خلک وفادار وي.
دولت: بلکې د ګوتو په شمار خلک وفادارۍ ته په ښه ګوري.
دوراني: رښتينی وفادار ښايي شخص ته وفادار نه وي، يو حرکت ته وي، يوې کودتا ته وي.يا دا کار د خپل هېواد لپاره کوي.
دولت: صېبه! د وفادارۍ خبره چې کوو، نو شخص ته د وفادارۍ خبره کوو، خو دا خبرې ډېر دوام نه کوي.يوازېنی کس چې د مشرف صفتونه کوي، جنرال احسان دی. او سکندر ورسره جوړ دی.
دوراني: احسان د مشرف نږدې کس و. د مشرف له يو څو سياستونو خوښ نه و، خو دی د هغو خلکو له ډلې څخه نه دی، چې يو ځل هغه څوک چې پر ده يې احسانونه کړي، له واکه لرې شو، نو دی دې يې غيبت ته ملا وتړي.يو بل تن هم شته چې د احسان هومره ښه يې ورسره کړي. دی تقاعد شوی و، بيا يې راوست او فدرال وزير يې کړ. خو ده چې خپله موخه ترلاسه کړه...
دولت: خو ايستل، ايستل دي.
دوراني: ايستل، ايستل دي. خو ده هم د مشرف لکۍ پرېښې نه ده. دوه، درې تنه دي چې لا پر مشرف ولاړ دي. ما ته د دواړو د نظريو معلومات شته.يوه دا چې تا ته يې ګټه در رسېدلې او اوس يې پر خلاف خوله نه چوله کوې، بله دا ده چې که پر دې باور شې چې يو څه خراب وشول، نو بيا بايد هغه د راز خبرې افشا کړې.
دولت: خو پر کارګېل سربېره، واجپای بيا هم مشرف «اګرې» ته را وغوښت. صېب، د اګرې په تړاو به ښه ډېر معلومات درسره وي.
دوراني: په دې تړاو ډېر نه پوهېږم، له تاسو مې يو څو خبرې واورېدې.
دولت: زما خبرې هم بېخي کره نه دي، ځکه زه په دې غونډه کې نه وم؛ خو زما له انده په زړه پورې ناسته وه.
دوراني: نه رښتيا؟ اچه (ښا).
دولت: همدغسې وه. واجپای (ملي ډيموکراتيک ائتلاف) کابينه د ده يوه ځانګړې وړتيا وه او خاص، خاص خلک پکې راټول شوي وو. ان د «ارون جيتلي» او «پرامود مهاجان» غوندې ځوانان. خو په کابينه کې مهم خلک : واجپای، اډواني، جسوانت سېنګ، ياشوانت سېنها او بل چې د چا په خيال کې هم نه راته، جورج فرناندېس.
جورج ښه لوبغاړی و او د دفاع ښه وزير و. ما له دوو لارو په دې تړاو معلومات ترلاسه کړي.يو براجيش مېشرا، مې خوا ته راغی او جريان يې را ته وواېه چې د ده د نااميدۍ ښکارندويي يې کوله. بل «قاضي اشرف» راته په دې تړاو په زور او زير کيسه وکړه له ده سره مې دوه ځلې وليدل، لومړی ځل د «جګپوړي استازي» په حيث او دويم ځل مې په ۲۰۱۴ کې ورسره وکتل. برجيش مېشرا له کابينې د باندې د بهرنيو چارو موازي وزارت چلاوه، دغه سرمشريزه هم ده پلان کړې وه. که پوښتنه پسې وکړې، نو د مشرف د را غوښتلو نظريه د «اډواني» وه. برجيش مېشرا له قاضي سره نېغې اړيکې درلودې، ده قاضي تشويق کړ چې د جورج فريناندېس له لارې له «اډواني» سره دې نېکې اړيکې وپالي. کېدای شي چې ده جورج ته ټليفون کړی و چې دغه «سرمشريزه» دې جوړه کړي. دا کار ده وکړ. **دوام لري...**

# خواجه عبدالله انصاري د لوړو زده کړو موسسه

حمیدالله حمیدي



خواجه عبدالله انصاري د لوړو زده کړو موسسه چې په هرات ولايت کې موقعيت لري، د بنسټ ډبره يې په ۱۳۸۹ کال کې د حاجي اغا رضايي لخوا کېښودل شوې ده او د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت لخوا ورته د فعاليت جواز ورکړل شوی دی.
د يادې موسسې د اقتصاد پوهنځي د يوه تن استاد يزدان علي رضايي په وينا، خواجه عبدالله انصاري د لوړو زده کړو موسسه اوسمهال شپږ فعال پوهنځي (اقتصاد، کمپيوټر ساينس، انجنيري، حقوق او سياسي علومو، انګليسي ادبياتو او ژورناليزم) لري.
ښاغلی رضايي وايي، اوسمهال د لوړو زده کړو دغه موسسه ۴ فعال پوهنځي لري چې په شپږو ډيپارټمنټونو کې يې محصلين عملاً پر زده کړو بوخت دي.
د ښاغلي رضايي په وينا، د لوړو زده کړو ياده موسسه شاوخوا ۱۲۰۰ زده کړيالان لري چې نارينه او ښځينه دواړه پکې شامل دي. دی وايي، محصلين يې خپله د هرات ولايت او هرات ښار ته د نږدې نورو ولايتونو اوسېدونکي دي. دا چې په محصلينو کې يې څومره نارينه او څومره ښځينه محصلين دي، ښاغلي رضايي يې په اړه څه ونه ويل.
نوموړی وايي، خواجه عبدالله انصاري د لوړو زده کړو موسسې تر اوسه لس دورې فارغين ورکړي او ټولنې ته يې د خدمت په موږخه وړاندې کړي دي. ښاغلي رضايي وايي، چې فارغ شوي ټول محصلين يې په هرات او د هېواد په نورو ولايتونو کې په دولتي او غير دولتي ادارو کې پر دندو بوخت دي، ځينې يې د لوړو زده کړو لپاره له هېواده بهر تللي او يا هم په نورو کارونو بوخت دي. دا چې په لسو دورو کې يې د ټولو فارغ شويو محصلينو شمېر څومره و، ښاغلي يزدان علي رضايي يې په اړه څه ونه ويل.
ښاغلی رضايي همدار راز زياتوي، هر کال يې د نويو جذب شويو محصلينو شمېر توپير کوي، چې تېر کال يې په خزاني دوره کې شاوخوا ۲۰۰ نوي زده کړيالان جذب کړي وو او سږ کال يې په پسرلنۍ او خزاني دواړو دورو کې تر ۳۵۰ پورې نوي زده کړيالان خپلو مختلفو پوهنځيو ته جذب کړي دي. په خصوصي پوهنتونونو او د لوړو زده کړو موسسو کې د نويو محصلينو د جذب شمېره تر ډېره په هېواد او يا هم په هماغه اړوند ولايت کې په اقتصادي او امنيتي وضعيت پورې تړلې وي. که د هېواد امنيتي او اقتصادي وضعيت ښه وي، هغه ده چې ډېر ځوانان زړه ښه کوي چې په خصوصي پوهنتونونو کې نوملیکنه وکړي او زده کړې وکړي.
ښاغلی رضايي وايي، دا چې د کرونا ناروغۍ په لړ کې هېوادوال له مالي ستونزو سره مخ وو، نو خواجه عبدالله انصاري د لوړو زده کړو موسسې خپلو زده کړيالانو ته د يادې ناروغۍ په لړ کې پسرلنی سمېستر په بشپړه توګه وړيا يانې په ۱۰۰٪ تخفيف او خزاني سمېستر يې په ۲۵٪ تخفيف سره تدريس کړ. په ټوله کې خواجه عبدالله انصاري د لوړو زده کړو موسسه د محصلينو اقتصادي وضعيت ته په کتو تخفيف ورکوي.
د ښاغلي يزدان علي رضايي په وينا، خواجه عبدالله انصاري د لوړو زده کړو موسسه ډېر استادان لري چې ډېری يې د ماسترۍ او دوکتورا تر کچې لوړې زده کړې کړې دي. دی وايي، هڅه يې دا ده چې د لوړو زده کړو له معيارونو سره برابر پر کار پوه او تجربه لرونکي استادان د تدريس لپاره وګماري، څو وکولای شي مسلکي کسان ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي.
نوموړی زياتوي، دوی په تېرو کلونو کې د ورځې يوازې دوې دورې تدريسي بهير درلود چې د سهار او ماښام لخوا يې چارې پر مخ وړل کېدې. سهارنۍ دوره يې له شپږ نيمو تر نهه نيمو بجو او ماښامنۍ دوره يې له څلورو تر اووه بجو پورې وه، خو اوسمهال د ورځې په دريو دورو کې خپلې تدريسي چارې پر مخ وړي، چې دريېمه دوره يې د ورځې په لړ کې له نهه نيمو تر دوولس نيمو بجو پورې زده کړې کوي.
دا چې کتابتون د يوه علمي بنسټ د ملا تير بلل کېږي، نو ښاغلی رضايي وايي، خواجه عبدالله انصاري د لوړو زده کړو موسسه د خپلو محصلينو د علمي سويې د لوړاوي په موخه کتابتون لري، چې د هر پوهنځي اړوند ډېر کتابونه پکې دي او زده کړيالان کولای شي د خپلو مالوماتو د تر لاسه کولو او مطالعې لپاره ورته مراجعه وکړي.
دی وايي، هڅه يې دا ده چې کتابتون ورځ تر بلې غني کړي او د پوهنځيو اړوند او د ازادې مطالعې لپاره ډېر نور کتابونه هم ځای پر ځای کړي.
د ښاغلي يزدان علي رضايي په وينا، دوی له ځينو داخلي او بهرنيو پوهنتونونو او علمي بنسټونو سره اړيکې لري، چې د هېواد د ننه په هرات ولايت کې د اشراق په نوم له پوهنتون سره علمي اړيکې لري او له هېواده د باندې يې د هند هېواد له يوه خصوصي پوهنتون سره د علمي اړيکو تړون لاسليک کړی دی، چې ډېر ژر به خپل محصلين هلته د لوړو زده کړو لپاره ولېږي او د ياد پوهنتون استادان به د تدريسي چارو لپاره خواجه عبدالله انصاري د لوړو زده کړو موسسې ته مراجعه وکړي.
ښاغلی رضايي همدا راز زياتوي، خواجه عبدالله انصاري د لوړو زده کړو موسسې د خپلو اتو دورو فارغو محصلينو ته په لوړو زده کړو وزارت کې ثبت او راجستر شوي ډيپلومونه توضېح کړي دي.
نوموړی وايي، دوی د محصلينو د علمي سويې د لوړولو په موخه د هر سمېستر په لړ کې ډېر علمي سمينارونه په دايروي او همدا راز يې د هرات ولايت له مقام سره يو تفاهم ليک لاسليک کړی دی، چې له مخې به يې د دوی فارغ محصلين په مختلفو ولايتي ادارو کې پر کار زده کړې او دندو بوختېږي.
ښاغلی رضايي وايي، دوی د خواجه عبدالله انصاري د لوړو زده کړو موسسې د لا ښه والي او پرمختګ لپاره ځينې پلانونه په لاس کې لري، چې له هغې ډلې يې د استادانو او محصلينو د ظرفيت لوړونې او ماسترۍ د پروګرامونو رامنځته کولو، د بهرنيو ژبو او کمپيوټر زده کړې د مرکزونو رامنځته کولو او داسې نورو ته اشاره وکړه.
ښاغلی رضايي زياتوي، دوی له دولت او په ځانګړې توګه له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي څو د لوړو زده کړو خصوصي موسسو او پوهنتونونو ته لا ډېره پاملرنه وکړي، ملاتړ يې وکړي او د هغوی ظرفيت ته په کتو د کيفيت لوړونې په برخه کې لا ډېرې اسانتياوې ورته رامنځته کړي. دی وايي، لوړو زده کړو وزارت ته پکار ده چې له خصوصي پوهنتونونو څخه هر اړخيز ملاتړ وکړي، څو دغه بنسټونه پر خپلو پښو ودرېږي او له دولتي پوهنتونونو سره اوږه په اوږه د هېواد بچيان وروزي او د هېواد په ابادۍ کې برخه واخلي.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۲ |
| € | ۹۳,۵ |
| Rp. | ٤۷۹ |
| ₹ | ۱۰۵۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰٤,۱ |

### بيړنۍ شميري

پوليس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزير محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتيايي مرکز
166

همیانۍ

# باور ولرئ چې هرڅه ستاسې تر اړتيا زيات دي

ژباړه: امان الله حنيفي

زه نورو ته يو الگو ځوان نه وم. د ډېرو نورو ځوانانو په څېر به ما هم له خوب سره مبارزه کوله، خو هغه څه چې زه يې له نورو ځانگړی کړی وم، هغه سهار وختي زما د پاڅېدو ډول و. هر سهار وختي پاڅېدم او هغه لحظه به چې راويښ شوم، ژر به له بستره راپورته شوم، ځکه نه مې غوښتل چې بيا خوب راباندې زور وکړي او ويده شم. د همدې کار د تر سره کولو لپاره مې بايد کوم څيزونه له لاسه ورکړي وی؟

د پلار کور مې په يوه لرې پرته کليواله سيمه کې و، چې د خلکو يوازينی کسب و کار يې بزگري وه؛ خو ما له دې هرڅه سره سره بيا هم هره ورځ غوښتل چې يو نوی، عجيب او انگېزه لرونکي څه رامنځ ته شي، څو هغه په ټول کمال سره تجربه کړم.

داسې احساس کوم چې زه نړۍ ته د ليکوالۍ له يو پياوړي احساس سره راغلی يم. زما همدا ځانگړنه د دې لامل شوې چې مثبت فکر وکړم، پر خلکو باور وکړم او د ځان او نورو په اړه د خوښۍ احساس وکړم، څو له ژونده خوند واخلم.

ما د بېلابېلو څيزونو له انتخابولو سره مينه درلوده او باوري وم چې هرڅه امکان لري.

د ښه احساس وړتيا مې ډېره پياوړې وه.

ډېر وروسته وپوهېدم چې ټول خلک داسې فکر نه کوي او ډېری داسې کسان هم شته چې ليدلوري يې يوازې عيبونه او نيمگړتياوې دي. په داسې حال چې ټول پر دې باور لري چې د خدای پاک خزانې تر حد زياتې او غني دي. خو ځينې بيا هم دا باور نه لري او دوی فکر کوي چې هرڅه ته به ونه رسېږي. په داسې حال کې چې لومړۍ ډله خلک د «هو» ويلو مينه وال دي او دويمه ډله بيا داسې احساس کوي چې مجبور دي وواييي چې «خير».

د دې دوو ډلو کسانو ليدلوري د نړۍ په اړه کاملاً متفاوت دي او هره ډله له خپل ليدلوري سره خاص تعصب لري. د نړۍ په اړه د هغوی ليدلوري، هغه څه چې دوی يېويني، هغه څه چې تجربه کوي يې او هغه څه چې اوري يې، ټول هغه ته تلقين کوي.

زه په څو څو واري په دې برخه کې د خلکو د ليدلورو شاهد يم، چې د هغوی ننۍ ژوند او راتلونکو وړتياوو ته يې نوی رنگ ورکړی دی. د نيمگړتيا او کم پيدا فکر مو د خپلو وړتياوو له تر لاسه کولو لرې ساتي او د دې برعکس بيا د پياوړتيا احساس د هغوی مخه خلاصوي، څو تر هغه ځايه مخکې لاړ شي چې حرکت کولای شي.

نه پوهېږم چې ولې، خو پوهېږم چې دا مسئله صحت لري. د نړۍ په اړه ستاسې ليدلوری ستاسې د نړۍ ټاکونکی دی، تاسې به پکې ژوند کوی او تاسې کولای شی خپل ليدلوری انتخای کړئ.

په دې برخه کې ستاسې د فکر ډول ستاسې انتخابونه ټاکي او همدا دليل دی چې تاسې بايد د خپل فکر ډول بدل کړئ. پياوړی احساس وايي: هرڅه زموږ له اړتيا زيات موجود دي. د کم پيدا يا کمزورتيا احساس بيا په ډېر احتياط سره خبر ورکوي، بيړه وکړه.... هرڅه مخکې له دې چې تمام شي، لاس ته يې راوړه او وايې خله. د پياوړتيا احساس بيا وايي، مخکې لاړ شه څو اصلي منبع ته ورسېږې. د کم پيدا احساس وايي، هغه څه چې لرې يې، کلک يې وساته، ځکه نور نشته. د پياوړتيا احساس وايي، ښې ورځې ستاسې انتظار کوي. د کم پيدا احساس وايي، هرڅه دې چې لاس ته راغلل، هماغه ښه دي. زموږ غبرگون د دې دواړو اوازونو په مقابل کې دې ته اجازه ورکوي، چې کوم يو يې زموږ ذهن کې خور شي.

**کله چې د کم پيدا احساس زه انديښمن کړی وم**

لکه مخکې مې چې وويل، ذاتاً له ډېر فکر کولو سره دې دنيا ته راغلی يم، خو له دې سره سره بيا هم څوځلې د کم پيدا احساس راباندې غلبه کړې ده، چې تر ټولو قوي هغه يې په څو دېرش کلنۍ کې وه. زه هغه وخت د يوې کليسا روحاني مشر وم، چې په خلکو کې مې ښه شهرت درلود، ما هلته ډېر د ارامۍ احساس کاوه او له هغو خلکو سره مې کار کاوه، چې ما ورسره مينه درلوده او هغوی هم غوښتل چې زه هلته پاتې شم. دا وخت له ما وغوښتل شول څو هغه ايډياوې چې زه يې لرم، په نورو ښارونو کې له شته او فعالو کليساوو سره شريکې کړم او دا زما لپاره يو ښه فرصت و. دا وخت مې بايد تصميم نيولی وی چې په هغه ځای کې پاتې شم چې راحت يم او که نوي دنيا ته ننوځم. دوه کاله وخت تېر شو څو زه دا تصميم ونيسم او بالاخره هماغه وو چې د پياوړتيا احساس مې پر کم پيدا هغه غلبه وکړه. هغه کليسا مې پرېښووده او لاړم څو د نورو کليساوو رهبرانو ته زده کړې ورکړم. دا وخت نږدې وه چې د کم پيدا احساس را باندې غلبه وکړي او راته وواييي چې له خپلې امن ساحې مه وځه، همدا ځای ستا لپاره ښه دی.

اوس له هغه تصميمه چې ما نيولی و، ډېر خوشاله يم او نه شم کولای هغه محدود ژوند تصور کړم چې زه د پکې رهبرانو ته يوځه ونه شم ښوولای، يا د دې هغوی وړتياوې لوړې نه شم کړای.

**هو او که نه؟**

نن داسې احساس کوم چې هم ډېره پراخه او هم ډېره لنډه او تنگه دنيا په واضح ډول درک کولای شم. په کلي ډول د کم پيدا کلمه په «نه» پورې تړل کېږي، په دې مانا چې يوځوک خوښوي چې په خپله امن محدوده ساحه کې د پاتې شي. خو د پياوړتيا يا پراختيا کلمه بيا په «هو» پورې تړلې ده، په دې مانا چې يوڅوک غواړي نوي څه تجربه کړي.

**له «نه» کلمې سره ژوند کول څنگه دي؟**

محدودوونکی وي: ځکه تاسې له نوو فرصتونو لرې ساتي.

اسانه دی: ځکه کله چې واييي «نه»، نور بيا دې ته اړتيا نشته چې تاسې يو کار تر سره کړی او يا د يو بل ځای ته لاړ شی.

ارام دی: ځکه له خلکو سره د معرفي کېدو حس نه درکوي. ډېری خلک له دې وېرېږي، هغه څه چې کم يې لري، له لاسه به يې ورکړي او د هغه څه چې دوی ورته اړتيا لري، اصلاً فکر نه کوي.

چل ورکوونکی وی: ځکه ظاهراً امن دی، خو حقيقت بيا داسې نه دی.

په بل پورې تړلی وي: ځکه ډېری خلک په دې محدوده کې ژوند کوي.

**له «هو» کلمې سره ژوند څنگه دی؟**

هياجان لرونکی دی: ځکه نوښت ته اړتيا لري، څو د نويو څيزونو په درک او مرسته کې ستاسې مرسته وکړي.

سپارښتنه لرونکی دی: ځکه پراختيا د پراختيا مولد ده او هرڅومره چې ډېره پراختيا تجربه کړی، هومره ستاسې بالقوه وړتياوې پياوړې کېږي.

# سالیوان: د امريکا او طالبانو تر منځ د سولې شوې هوکړه له سره ارزول کېږي

د امريکا د ملي امنيت شورا سلاکار جيک ساليوان ويلي، چې امريکا – طالبانو د ۲۰۲۰ز کال هوکړه به په بيا کتنه کې وارزول شي، چې طالبان له ترهگرو ډلو سره د اړيکو د پرې کولو، په افغانستان کې د تاوتريخوالي د کمولو او له افغان حکومت او نورو خواوو سره د با مفهومه خبرو د پيل په اړه په خپلو ژمنو څومره ولاړ دي.

د امريکا د ملي امنيت شورا له لوري په خپره شوې اعلاميه کې راغلي، نوموړي ډاډ ورکړی چې امريکا د افغان سولې له پروسې او هغو رغنده سيمه‌ييزو ډيپلوماټيکو هڅو ملاتړ کوي، چې سياسي جوړجاړي او دايمي اوربند ته د دواړو خواوو په رسېدو کې مرسته کوي.

نوموړي دغه راز د سولې د پروسې د برخې په توگه د افغان مېرمنو، نجونو او لږکيو د فوق العاده لاسته راوړنو له خونديتوب د امريکا د ملاتړ ډاډ ښکاره کړی دی.

په ورته مهال د افغانستان د ملي امنيت شورا هم وايي، چې په دغو ټليفوني خبرو کې جيک ساليوان ويلي، چې له افغان حکومت امنيتي او دفاعي ځواکونو سره د امريکا همکاري او ملگرتيا د متحده ايالتونو د ملي امنيت لومړيتوب دی او دوی به ډېر ژر له افغان حکومت سره نږدې سلا مشورې ته دوام ورکړي.

د ملي امنيت شورا وياند رحمت الله اندړ رسنيو ته په استولي پيغام کې ويلي: «افغانستان له امريکا سره خپلې ستراتېژيکې ملگرتيا ته ژمن دی او دواړه لوري په سوله، امنيت، له تروريزم سره په مبارزه او سيمه‌ييزو مسايلو سره په گډه کار کوي او د امريکا او طالبانو ترمنځ د دوحې د شوې هوکړې د ارزونې ملاتړی دی.»

نوموړی زياتوي، دواړو لورو په تلپاتې اوربند، عادلانه او دوامدارې سولې، ډيموکراټيک افغانستان، د تېرو دوو لسيزو په لاسته راوړنو، د ټولو افغانانو د حقوقو په خونديتوب او د اصلاحاتو پر دوام خبرې کړې دي.

د يادونې ده چې د امريکا او طالبانو ترمنځ د تېر کال د فبرورۍ په ۲۹ هوکړه لاسليک شوه، چې له مخې به يې تر راتلونکې مې مياشتې ټول امريکايي ځواکونه له افغانستان وځي.

د همدې هوکړې پربنسټ طالبانو ژمنه کړې، چې د افغانستان خاور به د امريکا او متحدينو پرضد نه کارول کېږي او بين الافغاني مذاکرات به پيلوي. د تېر ميلادي کال د سپټمبر په ۱۲مه د افغانستان د دولت او طالبانو پلاوو ترمنځ لومړنۍ پړاو بين الافغاني مذاکرات پيل شول، چې له شاه خوا ۴ مياشتو وروسته يوازې د خبرو پر کړنلارې هوکړې ته ورسېدل او د خپلې پشنهادي اجنډاوې يې د غور او خپلو مشرانو سره د سلا مشورو په منظور يو بل ته ورسپارلې.

له شل ورځو ځنډ او دواړو پلاوو له سلا مشورو وروسته دوې نيمې اونۍ وړاندې يو ځل بيا دويم پړاو بين الافغاني مذاکرات پيل شول، خو ډېری افغانان شکايت کوي، چې دا ناستې پڅې روانې دي.

خو د طالبانو د قطر د دفتر وياند ډاکټر محمد نعيم وايي، چې مقابل لوري تر اوسه دوی ته اجنډا نه ده سپارلې.

# امريکايي رسنۍ: بايډن دې د افغان جگړې د ختمولو لپاره اقدام وکړي

ستار اند سټرايپز امريکايي رسنۍ ويلي چې بايډن بايد په افغانستان کې د امريکا د اوږدې جگړې د ختمولو لپاره اقدام وکړي.

ستار اند سټرايپز په يوه اوږده مقاله کې په افغانستان کې روانې جگړې او د سولې بهير ته کتنه کړې ده. سرچينه کاږي بايډن څلورم ولسمشر دی چې د واک پر مهال يې په افغانستان کې يوه ناپايه جگړه روانه ده. سرچينه کاږي، ښايي بايډن يا له طالبانو سره د سولې خبرو ته ادامه ورکړي، يا له هوکړې سره سم خپل سرتېري وباسي او يا د خبرو يو نوی پړاو پيل کړي. په



مطلب کې راځي له دې ټولو سره سره، د بايډن مسووليت دی چې په افغانستان کې دغه اوږده جگړه له ټولو ممکنه لارو د کار په لومړيو کې پای ته ورسوي.

سرچينه کاږي سره له دې چې په دوحه کې بين الافغاني مذاکرات روان دي، خو په افغانستان کې جگړې شديدې شوې دي، طالبان د لا ډېرو سيمو د نيولو په لټه کې دي او همدا راز دوی پر افغان ځواکونو خپل بريدونه ډېر کړي دي، نو له همدې امله د دې اړتيا ده چې ژر تر ژره د بايډن حکومت د دغه اوږدې جگړې د ختمولو لپاره اړين اقدامات ترسره کړي.

په ورته مهال سي اېن اېن شبکې د امريکا نوي دولت ته د نږدې سرچينو په حواله راپور ورکړی، چې د امريکا تازه ولسمشر جو بايډن هم د افغان سولې لپاره د امريکا ځانگړی استازی زلمی خليلزاد په خپله دندې کې ساتي.

مسیر ورځپانه

**مسوول مدير:** اسدالله وحيدي

**مرستيال:** شفيق اميرزی

**ايډيټران:** جواد تيموري او امان الله حنيفي

**خبريالان:** حميدالله حميدي، حکمت آرين
او حشمت الله نوري

**گرافيک او ډيزاين:** ارمان

**چاپخونه:** وايگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL
PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

یکشنبه د ۱۳۹۹ د سلواغې پنځمه | د ۲۰۲۱ د جنوري ۲۴مه | ٦٦٨مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۰ | ۱۲ | ۱۲ | ۷ | ۱۹ | ۸ |
| -۵ | -٦ | ۱ | -۳ | ۲ | ۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۳٦ | لمر ختل ۰٦:۵۷ | ماسپښین ۱۲:۰۶ | مازیګر ۰۲:۲۵ | ماښام ۰۳:۳۷ | ماخوستن ۰۵:۱۵

## نړۍ




پر کانګرس تر برید وروسته؛

# د امریکا سنا جرګه د دغې پېښې له کبله د ټرمپ محاکمه پیلوي

۳

## راپورونه: د روسیې پولیسو د لاریونونو پرمهال د ناوالني سلګونه پلویان نیولي دي




د راپورونو له مخې، د روسیې پولیسو د الکسي ناوالني سلګونه پلویان د لاریونونو پرمهال نیولي دي. د روسیې د نیول شوي سیاسي مخالف الکسي ناوالني پلویانو د یاد هېواد په ٦۰ بېلابېلو ښارونو کې لاریونونه کړي او له کرېملین څخه یې د هغه د ژر تر ژره خوشې کېدو غوښتنه کړې ده.
لاریونوالو د اعتراض نه کولو په اړه د پولیسو خبرداري او خنډونه له پامه وغورځول او سړکونو ته راووتل. دغه لاریونونه په لرې ختیځ، سایبیریا، ولادیوستاک، خاباروفسک، چیتا او نورو ښارونو کې شوي دي. د خاباروفسک په ښار کې چې له چین سره سرحد لري، د ناوالني پلویانو له پولیسو سره نښتنه هم کړې، پولیسو هڅه کوله چې د دغه لاریون مخه ونیسي.
په مسکو او د روسیې په ځینو نورو ښارونو کې تر دې وړاندې د دغه مخالف سیاستوال پلویان نیول شوي‌دي. پولیسو د ناوالني پلویانو ته خبرداری ورکړی و چې لاریونونه دې نه کوي او خپلواکو ژورنالستانو ته یې هم ویلي چې د دغو مظاهرو په اړه راپورونه خپاره نه کړي.
الکسي ناوالني څه موده مخکې له جرمني څخه روسیې ته راستون شو او له رسېدو سره سم په مسکو کې ونیول شو. هغه په جرمني کې د یو ایجنټ له لوري مسموم شوی و او په روغتون کې بستر شوی و. ناوالني د روسیې په ولسمشر ولادیمیرپوټین تور لګولی چې د روسیې استخباراتو ته یې لارښوونه کړې وه چې هغه مسموم کړي، خو کرملین دا تورونه رد کړي دي.

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا د مړو شمېرې له دوه میلیونو او ۱۱۸ زرو کسانو واوښت

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۹۸میلیونه او ۸۳۹ زره او ۷۵۴ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله دوه میلیونه او ۱۱۸ زره او ۵۳۱ کسان مړه شوي او له ۷۱ میلیونه ډېر تري ښېرته رغېدلي دي. د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۲۵ میلیونه او ۳۹۲ زره او ٦۴۲ ته رسېدلي او ۴۲۴ زره او ۱۸۷ نور امریکایان تري مړه شوي دي.
دغه راز هند د ۱۰ میلیونه او ٦۴۰ زره او ۵۴۴ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د اته میلیونه او ۷۵۵ زره او ۱۳۳ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، روسیه د درې میلیونه او ٦۹۸ زره او ۲۷۳ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او بریټانیا د درې میلیونه او ۵۸۳ زره او ۹۰۷ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.
فرانسه، هسپانیا، ایټالیا، ترکیه او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.


## ادارۀ هوانوردی ملکی: ادعاهای اخیر حکمتیار درباره نشست و برخاست طیاره‌های نامعلوم بی اساس می باشد



ادارۀ هوانوردی ملکی نشست و برخاست طیاره‌های بی نام و نشان را در میدان هوایی بین‌المللی حامد کرزی رد می کند.
در همین حال، سید عمر صبور، رئیس این میدان هوایی از گلبدین حکمتیار رهبر حزب اسلامی که به رزو جمعه در این باره اظهار نظر کرده بود می‌خواهد که برای ثبوت ادعاهایش سند و مدارک ارایه کند. له گفته وی: «دستگاه‌های ما تاکنون همچون طیاره‌های برای ما نشان نداده که بی نام و بی نشان باشد؛ یا در فضای افغانستان عبور کرده باشد، یا در میدان هوایی حامد کرزی نشست کرده باشد.»
آقای صبور می‌گوید که امنیت این میدان هوایی از سوی چندین نهاد تأمین می‌شود و زمینه برای قاچاق پول و طلا از این میدان هوایی به بیرون از کشور فراهم نیست.
این در حالیست که حکمتیار گفته‌است که طیاره‌های بی نام و نشان در میدان هوایی کابل نشست و برخاست می‌کنند که در قاچاق پول و طلا دست دارند: «در حالتی در میدان هوایی کابل به زمین می‌نشینند و پرواز می کنند، می‌روند و می‌آیند، به‌طور مکرر که امنیت میدان هوایی هم به‌طور فوق‌العاده و نه توسط محافظان میدان هوایی از محل دیگری تأمین شده‌است.»
حکمتیار همچنان از ولسی جرگه خواسته است تا نشست و برخاست این طیاره‌ها را بررسی کند.

## ژوند


## د موبایل ډېر استعمال د یادښت قوه زیانمنوي



سویس کې یوې نوې طبي څېړنې ښودلې، چې د ځیرکو موبایلونو ډېر استعمال او کارول د تنکیو ځوانانو او ماشومانو پر یادښت قوه ډېر منفي اغېز کوي او د دوی د ذهني وړتیاوو د له منځه وړلو سبب کېږي. د سویس یو طبي انسټېټیوټ د خپلې نوې څېړنې پر اساس وايي، چې د ځیرک موبایل وړانګو او فریکوینسیو ته تر یو کال او یا هم زیات وخت په تېرولو سره د انسان ذهن سخت اغېزمن کیږي، چې په پایله کې یې د یادښت کمزورتیا رامنځ ته کیږي. د ځیرکو موبایلونو او ټکنالوژیکي توکو زیات استعمال او کارول د حافظې چوکاټ «Figural Memory» زیانمنوي، چې د دماغ په راسته طرف کې ځای لري. یادې څېړنې ښودلې، هغه کسان چې ځیرک موبایل راسته غوږ ته نږدې نیسي، هغوی له دغو راوتونکو فریکوینسیو څخه زیات اغېزمن کیږي. دغه څېړنه پر ۷۰۰ هغو کسانو تر سره شوه، چې له ۱۲-۱۷ کلونو یې عمر درلود او پکې د راډیویي وړانګو او د انسان د دماغو او یادښت قوې تر منځ د ارتباط پلټنه شوې.

## سامسُنګ ارزان بیه ۵جي موبایل معرفي کړ

خو اونۍ وړاندې د سامسُنګ کمپنۍ د ارزان بیه ۵جي ځیرک موبایل ډیزاین او ځینې ځانګړنې افشا شوې، خو اوس سامسُنګ کمپنۍ رسماً د دغه ځیرک موبایل ځانګړنې، بیه او د وړاندې کېدو نېټه تاییده کړې. دغه ځیرک موبایل ګلکسي اې۳۲ نومول شوی چې له ۵جي څخه ملاتړ کوونکی ارزان بیه ځیرک موبایل دی. دغه ځیرک موبایل به د فبروري په ۱۲مه خرځلاو ته وړاندې شي او د ٦۴ ګېګابایټ فایل ثبتونې وړتیا لرونکې بڼې بیه به یې ۲۷۹ یورو او د ۱۲۸ ګېګابایټ فایل ثبتونې وړتیا لرونکې بڼې بیه به یې بیا ۲۹۹ یورو وي. دغه ځیرک موبایل په ښکلي ډیزاین سربېره، غوره او د پام وړ ځانګړنې او ٦,۵



انچه مخ‌پانه هم لري. ګلکسي اې۳۲ به تر ۸ ګېګابایټ رم، له میموري کارت څخه د ملاتړ وړتیا، اوکټا کور پروسېسر او ۵۰۰۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ ولري. شاتنۍ برخه کې څلور کامرې لري چې ۴۸ مېګاپکسله اصلي کامره، ۸ مېګاپکسله الټراواېډ اېنګل، ۵ مېګاپکسله مکرو او ۲ مېګاپکسله ډېپت سېنسر پکې شاملې دي.




د زده کونکو/زده کړیالانو جاري حساب

عزیزي بانک خوښ دی چې خپل ځانګړی محصول "د زده کونکو جاري حساب" په لاره اچولی چې د افغانستان د زده کونکو لپاره ځانګړې ډالۍ ګڼل کېږي. نوموړی حساب زده کونکو/زده کړیالانو ته د وړیا ای ټي ام کارت او په کلنۍ فیس کې د ماسټر ډبټ کارت تخفیف سره چمتو شوی دی.

www.azizibank.af 1515

عزیزي بانک
Azizi Bank